محمدیوسف صابر ساپی

۲۰۲۶/۰۷/۱۱

# د پنجاب پوځي ستراتيژي او د ا.ا. تکتيکي ګوزارونه

د پاکستان له خوا پر افغانستان باندې وخت په وخت بريدونه له ځان سره ټاکلی پيام لري. پاکستاني پوځ د ټاکلي ستراتيژيکي پلان له مخې عمل کوي. ددې په مقابل کې د اسلامي امارت ځوابونه د کومي ستراتيژي پر بنسټ باندې نه، بلکي غچ اخيستونکي دي.
د پاکستان د ستراتيژي د معلومولو له پاره ډيرو قوي او دقيقو استخباراتي پلټنو ته ضرورت نشته. يواځي په بيدار او هوښيار نظر سره د پاکستاني تولنيزو رسنيو دوامداره څارنه په روښانه توګه څرګندوي چي له ډيره وخته د پاکستاني جرنيلانو د ميز په سر د افغانستان په ضد د عمليانو بشپړ پلان پروت دی، اما د حالاتو انکشافاتو ته سترګي په لار دي.
پاکستاني پوځي ستراتيژي دوه غوره برخي لري:

۱ -په سيمه کي د کړکيچ امريکايي ستراتيژي سره سم د چين او روسيي په ضد د جيو پوليتيکي سياليو د ډګر په توګه افغانستان بايد ناآمنه شي. لدې سره سم پاکستان د امريکا-انګليس د سيمه ايبزې اجرائيوي اداري په توګه د افغانستان د ناآمنی ستراتيژي تعقيبوي. د سيمې امنيت، په ځانګړې توګه د افغانستان امنيت د پاکستان پايښت ته، په سيمه کي د لوديز استعماري ناسور په توګه، ګواښ دی.
ښايي په پام کي وساتو چي امريکا اوس د شلمي پيړۍ امريکا نه ده چي د خپلي غوښتني سره سم د نړۍ په هر ګوټ کي هر څه وکولای شي. امريکا نن هم په نړۍ کي ډير څه کولای شي، اما هر څه نه شي کولای. افغانستان او ايران يي ژوندي مثالونه دي. افغانستان او ايران بمباردولی شي، اما نيولی او ساتلی يي نه شي، ځکه چي دغه ستر پوځ کافي او غښتلي پلي ځواک نه لري. ننداره يي مليتاريزم يي کاغذي ببر ته ورته، د پخواني شوروي ستر پوځ ته ورته بڼه لري.
پر ايران باندې د امريکا او اسرائيلو د بريد د پيل دمخه کله چي د ټرمپ له خوا د بګرام د هوايي اډې د بيا نيولو ګونګوسي رواني وې او عاصم منير د ټرمپ د خوښې وړ مارشال په څير په شا ټپول کيده، هغه وخت د امريکايي او پاکستاني چارواکو انتظارات څه بل ډول وو. امريکايي، اسرائيلي او ورسره پاکستاني مشرانو داسي انګيرله چي پر ايران باندې د بريدونوسره ژر به د ايران مشران څه مړه او نور به په تيښته وتښتي، تر ټولو لنډ او د ډاډ وړ ځای به ورته په افغانستان کي اسلامي امارت وي. عاصم منير ورته ټټر ډبولی ؤ: د تهران تسليمي دمخه به پاکستاني پوځيان په کابل کي ناست وي. بيا به د سپتمبر د پيښي وروسته د طالبانو او القاعده غړو سپارلو په څير به مزې وي: ايراني آخوندان به يو يو امريکا ته ور تسليموي او د پرويز مشرف په شان به ميليونونه ډالر ترلاسه کوي. د ايراني آخوندانو بيي هرومرو تر خوارو طالبانو لوړې اټکل کيدې!
اما حالاتو د هغوی د انتظار په خلاف خپله لار غوره کړه. ايراني مشرانو د افغانستان د خلکو د مقاومت څخه په الهام، د يرغلګرو د بريدونو په مقابل کي په زړورتيا ودريدل او متجاوزين يي شاتګ ته مجبور کړل. لدې سره پر افغانستان باندې د پاکستاني پوځيانو د بريدونو په اور هم اوبه توې شوې. د نوموړي ستراتيژيکي پلان د نړيوال بعد برسيره، پاکستان په خپل نفوذ کي د خوار افغانستان د ساتلو اراده هم لري.
۲ -پاکستان د افغانستان په اړوند د خپلو ړندو ګټو پر بنسټ ولاړه ستراتيژي، د انګريزي استعمار ميراث خور په توګه د ستراتيژيکي عمق او فورد ورد پاليسي، د ګام په ګام وړاندې تګ سياست پرمخ بيايي. پوځي ستراتيژي يي هم د همدغه سياست په خدمت کي ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

-پر افغانستان باندې د رسمي پولې په توګه د ډیورنډ د فرضي کرښې تحمیل د پاکستاني دښمنۍ غوره هدف دی. پر افغانستان باندې د پاکستان د هوایي او توپچي پرله پسې ګوزارونو غوره موخه داده چې د ډیورند د کرښې دواړه غاړې پرتې سیمې هر څومره چې وکولای شي له اوسیدونکو تخلیه کړي. لدې سره به د سیمې ساتنه ورته آسانه شي او « شتمنه پښتونخوا» به په اسانۍ سره له ستونې تیرولی وشي.

-د افغانستان اوبه خپل استعماري حق ګڼي؛

-په افغانستان کې د ګډوډۍ سره د نیشه یې توکو تولید او سوداګرۍ رونق پیدا کوي او پاکستان د خپلې کلنۍ بودیجې په اندازه د کال شاوخوا لس میلیارده ډالر ګټه ترې پورته کوي؛ د پنجاب حرص یواځې د پښتونخوا د شتمنیو په قبضې سره نه ارضا کیږي، د ټول افغانستان معدنونه او زیرمې هم تر سترګو لاندې لري.

-د هند سره د افغانستان اړیکي باید د پاکستان په هدایت کې وي؛

دا د پاکستان د غوښتنو د اوږد لست څو غوره ټکي دي.

اما په افغانستان کې د اسلامي امارت د واک دوام سره د پاکستان د ستراتیژیک عمق کړنلاره معکوسه نتیجه ورکړه: په افغانستان کې اسلامي امارت اوس د پاکستان د ګټو ساتونکي نه، برخلاف پاکستاني طالبان د پاکستان له پاره عملي ګواښ ګرځیدلی دی. دا د اسلامي امارت د مهارت اوفعالیت پایله نه ده، دا د تاریخ جبر دی. ټولنیز بهیر ډیر کله د انسانانو د ذهن او باورونو سره سم پرمخ نه ځي، هغه یوه عیني یعنې د انساني ذهن څخه بهر پروسه ده.

د پاکستان د پوځي ستراتیژي په مقابل کې د اسلامي امارت په غبرګونونو کې د کوم ټاکلې ستراتیژیک پلان نښه او نښانه نه تر سترګو کیږي. همداسې « توکل په پقړۍ» روان دي!

اسلامي امارت ښایي د خپل پایښت او دوام له پاره له دریو خواوو خورا منندوی وي:

-د اسلامي امارت چارواکي باید د امریکا او اسرائیلو په مقابل کې د ایران د خلکو د مقاومت څخه شکرګزار وي. که نه د ایران له ماتې دمخه به اسلامي امارت د پاکستان له خوا له منځه تللی وو. که څه هم ایراني مشران د اسلامي امارت سره په خپل چلند کې ریښتینی نه دی؛ د خپلو ژمنو پرخلاف یې تر اوسه په رسمیت نه دی پیژندلی او د محقق په څیر افغان دښمنه څیره او د احمد مسعود په څیر یو بې کفایته انسان ته د «مقاومت» مشرانو په توګه د رسمیت بخښلو هڅه لري.

-د افغانستان خلک باید د لرې پښتونخوا د ټولو ملي او مذهبي ګوندونو او عام ولس څخه مننوی وي؛ د لرې پښتونخوا ټولو ملي او مذهبي ګوندونو، د واکمن تحریک انصاف په شمول، سره ددې چې د پنجابي ښکیلاکې سیاسي جوړښت متشکله برخه دي، بیا هم د افغانستان په ضد د پاکستاني پوځ د جګړې مخالفت کړی دی. د پنجابي پوځ او افغانستان ترمنځ « ښکلې پښتونخوا» د سپر په توګه پرته ده.

-د اسلامي امارت مشران ښایي د شمالي ټلوالې څخه هم سپاس ګزاره وي. ځکه دغو لنډغرو په خپل ناکردو سره د افغانستان خلک دومره وځپل چې اوس د داسې ارتجاعي، ترقي او رفاه ضد قوت لکه اسلامي امارت د واک لاندې هم غلي کرار ناست دي، د لنډغرو د بیا راتګ له بیرې، بغاوت ته زړه نه ښه کوي.

په اوسنیو حالاتو کې د هیواد له پاره د اسلامي امارت رسمي اعلان شوی اقتصاد محوره سیاست خورا ګټور دی، اما په عمل کې د اسلامي امارت سیاست ډیر کله ایډیالوژیک محوره دی. د عصري ښوونځیو په ځای د منځنیو پیړیو مدرسه بازار جوړ دی. په هیواد کې ځینې زیربنایي پروژو کار جریان لري، اما په هیڅ صورت د هیواد اړتیاوو سره، د نړیوال او آن د سیمې د پرمختګ کاروان سره برابرې نه لري. د اختناق له کبله ځوانان له هیواده تښتي. هیواد په څو غیر مسلکي کسانو او ملایانو ولو که هر څومره هیوادپاله هم وي، پرمختګ نه شي کولای. د ډیورنډ په کرښه د اقتصادي راکړې-ورکړې او د خلکو د تګ-راتګ بندښت، سره ددې چې د پاکستان په اګاهانه اراده شویدی، د پښتنو له پاره نه یواځې ستر اقتصادي زیانونه رسوي، بلکې په اوږدمهال کې ټولنیز ناورین دي، د همیش له پاره یې سره جلا او بیګانه کوي.

د پاکستان د بریدونو په مقابل کې د ګران هیواد ساتنې له پاره ستراتیژیکه دفاع او مخکې له مخکې د اړتیا په وخت کې د ستراتیژیک برید بشپړ پلان حیاتي ضرورت دی. د ډیورنډ په کرښه، یا په پښتونخوا او بلوچستان کې پوځي هدفونه په نښه کول او له منځه وړل دا تکتیکي فعالیتونه دي چې د پاکستان د ستراتیژیکو موخو مخه نه شي نیولی. که افغانستان د اوس له پاره سیال هوایي ځواک نه لري، د پاکستان د هوایي برترې دمنځه وړلو لارې چارې شته دي. په پنجاب کې د پیلوټانو کورونو پیدا کول او هغه د بریدونو لاندې راوړل، د هغوۍ هوایي پوځ فلج کولی شي. دا کومه خالي ببولالې نه ده. دا کار په دویمه نړیواله جګړه کې انګلیسانو د المان په ضد، د المان په خاوره کې سرته رسولی ؤ. د المان د پوځي کارخانو د کاریګرانو کورونه یې پیدا او له منځه یې یوړل. پدې توګه یې د المان پوځي صنعت فلج کړ.

د قبایلي سیمو یا ټولې پښتونخوا د خپلواکۍ له پاره د ځایي قوتونو مرسته او ملاتړ، د هند سره په همغږۍ کې، موږ د پاکستان له شره د همیش له پاره ژغورلی شي.

په سیمه کې د امریکا- انګلیس د کړکیچ ستراتیژي او د پاکستان پوځي ستراتیژي په مقابل کې افغاني دقیقې پوځي ستراتیژي ته اړتیا ده. د ټولو جیو-پولیتیکي، اقتصادي او پوځي پرامترونو په سنجش سره په سیمه کې د امریکا نفوذ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پرله پسې په کمېدو ښکاري. لدې سره ټولې استعماري پاتې شونې د پاکستان په شمول پناه کېدونکي برېښي. يواځې ټيله کول يې پکار دي. ستراتيژيکي لوبې يواځې د قوت لوبې نه دي، بلکې په هماغه کلاسيک مفهوم، د پهلواني لوبې دي چې څوک په کوم چال دښمن راپرځوي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ